مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۸/۰۵

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نميره خانه
الله گل دانه دانه
*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

دريمه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

ليکوال

ع .رشيد



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

الله ګل دانه ، دانه

پوره شپږمیاشتي لانه وې تیرې شوې چې د کرچکوف دوی دغونډ د ودانیو کارونه په خورا تیزۍ سره پرمخ روان وو، د غونډ سرتیرو هم جګړه کوله او هم به یې درانه درانه ودانیز کارونه ترسره کول ،ګرده ورځ به لکه دیوان لوڅ لوڅ تنونه کارونو ته لګیدلي وو،خو له دې سره سره یې ستوماني نه پیژندله،داسې به اخته ووچې تا به ویل دایی خپل هیواد دي اویاداچې ګواکي ورته ویل شوې وي چې دوی داهیواد نیولی او دا نورد دوی دی. دسیمې خلک به چې د دوی د قشلې په څنګ کې تیریدل که څه هم ښه نه پرې لګیدل،خوله یوه او بل سره به یې ویل:
ـ دوی ودان او سوکاله نه وي،نوڅوک به وي ،که زموږ خلکود دوی پرنیمایی د زړه له کومې خپل هیواد ته کار کولی اوس به موږ هم د دوی په شان ودان او نیکمرغه وای اوله ډیرې مستې اوودانۍ به موږ هم نورملکونه نیول...
په لنډه موده کې یې هغه شاړه دښته چې پرهغې باندې دغزنوي محموداوغوري سلطان شهاب الدین د پوځونونغارې یو وخت له ورایه اوریدل کیدې،له سوو سوو کالو را وروسته دغه سیمه په ښکلیو ښکلیو ودانیو داسې ښکلې کړه شوې وه چې هرچاته یې پردغه سیمه کې هغه انځور ورغبرګاوه هغه چې یومهال پرهمدغه سیمه د غوري سلطان پوځونو درلود،هغوی چې دهند دنیولو بریو ته یې تیاری نیوه او په شوراو زوږ کې به یې د ډولونو له انګازوسره یوځای دا سندرې هم پورته وې:
پښتونخوا ښکلي زلمي چې زغلي هند ته
نو آغلیه پیغلې کاندي اتنونه...
دشهاب جګړن به نه کیني له زغلو
نه به پریږدي دا زلمي خپل بهیرونه...
یا به جګ کا دبریورپی په هند کې
یابه پریږدې هم په دې چاره سرونه...
هو، یووخت پردغه دښته لکه ددغو وړومستطیل اومربع ډوله ودانیو پرځای د ببرسروغلجیواو تره کوغازیانو سوبمنو خپل کاړه بریتونه تاوول، خو دریغه چې اوس ... ؟
د روسانو په غونډ کې درانه درانه کارونه روان ول اودرنې وسلې په کې پورته کښته کیدې ...خو کرچکوف سره له دې چې یوعادي پوځي ښکاریده. له دغوکارونو او بیګاریو پریوه خوا پاتې و،دی نه پردې کارو خبرو اونه یې هم په دغه باره چا ته څه ویل او نه یې هم اوریدل،ددغو کارو پرځای ده پرنورو شیانو ځان بوختاوه چې هغه په خپله بې لامله څه نه وو...
دا څو ورځې کیدې چې د کرچکوف دوی په غونډ کې له یوه اوبله دا خبره اوریدل کیده چې په نن او سبا کې د دوی زیاته برخه یوه ولایت ته چې هلته هم حالت ډیرخراب دی استول کیږي ...له دغه تګه یوه ورځ دمخه نادرجان له کرچکوف سره دو الیبال په میدان کې پردغه موضوع
باندې خبرې کړې وې، نادرجان به کرچکوف ته زیاتره دهغو ولایتو په باره کې خبرې کولې چې هلته به حالات ډیرخراب وو، هغه چې ده ته هم ښه معلوم وو، په دغو ورځو کې دلوګر په ولایت او ورنژدې سیمو کې حالات خراب وو،مجاهدینو دلته د نارامیو شو پورته کړی و،یو شمیرکتارونه یې هم لوټلي وو، او یو شمیردرنې وسلې او ټانکونه یې هم سوځولي وو . کرچکوف او نادرجان هم داسې فکرکاوه چې دغونډ یوه برخه به له غزنې دګردیز پرلارد لوګر پرخوا ډیرزراوناڅاپه حرکت وکړي او داخبره همداسې رښتیاهم شوه...
دجمعې د ورځې په زیږې مازدیګر، په هغو شیبوکې چې نرې نرې باران هم نوی پیل کړی واوهرڅاڅکي به یې د شوروي سرتیري پرمخ لکه د انار د دانې په شان ښکاریده، قومانده ورکړه شوه چې باید زر ترزره ټول ځواکونه تیارسۍ او تګ ته تیارشي،له شوروي سرتیرو سره دنادرجان دوی ځواکونه هم تیارسی شول، ځکه چې شوروي سرتیرواوځواکونه ډیرلږ په یوازې توګه جنګي عملیاتو ته تلل،په زیاترو عملیاتو کې به دولتي پوځونه ورسره وو،کله کله به یې پوټی واک هم ورکاوه،خو زیاتره به یې په بې واکۍ سره دځان مله کړي وو، همداوه چې ډیروختونه به افغاني سرتیري دچا خبره دتوپ دلومړۍ ګولۍ نمرۍ هم کیدل په دې چې دوی به مخکې او شورویان به ورپسې وو ...
ګرد غونډ د جګړې لپاره تیارسۍ شو،کرچکوف اونادرجان بیا د یوه سنګر پرلورشول ... دهغې شپې زیاته برخه په تیارسي او انتظار سره تیره شوه، دمرسلې * دلوړې نوکې پرسرستورو داسې ننداره جوړه کړې وه،چې هره شیبه به یې د هرسرتیري خوبولو سترګو ته له ډاره ډک خونړي خونړي سترګکونه وهل، دشوبلو دکندک د سرتیري پتروفسکي شنې شنې سترګې به هره شیبه دمرسلې له ځلاندو ستورو سره جنګیدې،کله به یې چې دغو ستورو ته کتل نوهغه شیبه به وریاده شوه ، چې دی به له خپلې مورسره دخپل کورپه برنډه کې ناست واوهغې به ورته ویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ موږ په مینسک کې یو ، او هغه ستوري چې په ختیز آسمان کې موږ ته سترګکونه وهي ، هغه په هغه هیواد، په تیره بیا په ختیزو هیوادوکې ټولو ته همداسې سترګکونه وهي ...هو، ټولو ته ! زه تل دغو ځلاندو ستورو ته ګورم ، ښکلې ستوري دي ، زما د زړه له کومې خوښیږي،په دې چې دغه ستوري د ژوند دهیلو هیله منوغوټیوته د روښانه سباوون پرلورپه سترګکونو سره اشاري کوي ، هو، په تیاروکې دیوي روښانه راتلونکې په هیله...
لا سپیدې نه وې چاودلې چې کتار ته قومانده ورکړه شوه اولکه خوبولې ښامار ړنګ وبنګ روان شو، دکرچکوف لپاره همدغه سفرونه ترهرڅه مهم وو، ده به ویل چې دادده لپاره ډیره اسانه دنده نه ده،خو بیاهم ورته په زړه پورې وو، سره له دې چې دغه سفرونه د مرګ پرلور یودروند یون و،خو دکرچکوف لپاره په دې په زړه پورې و،چې ده به په دغو تلواوراتلو کې ډیرې نوې نوې خبرې او نوې نوې شیان لیدل اوراغونډول...
پوره یوه نیمه ورځ تیره شوې وه چې دوی هغې سیمې ته چې د دوی لپاره په نښه شوې وه و رسیدل،له غزنی تردغه ځایه یې ډټولې لارې په اوږدو کې ترشلو زیات موټرونه اوشوبلې له لاسه ورکړې وې او هم یې د اووونټوپه شاوخوا سترتیرې تراوسه مړه شوې ول ...خو په مقابل کې یې دوی هم دومره کلي وران کړل او دومره ګولۍ یې پرې واورولې چې رڼا ورځ یې پرې توره شپه کړې وه...
خود دوی کتار روان واوچا ته معلومه نه شوه چې پرهغوکلیو کې به څومره بې ګناه اوڅومره ګناهکار(!) کسان وژل شوي وي. له دغو ټولو کردواو ناکردوسره سره بیاهم د دوی کاروان د دوی ترسرمنزله پورې ورسیداو له رسیدو سره سم یې په سیمه کې په عملیاتو باندې پیل وکړ.ماته، وژنه،یرغمل او تریوه حده بري به په دغوعملیاتو کې ترهرڅه تودې خبرې وې، کوم ځای ته چې دوی اوس رارسیدلي وو،دا لوګرو چې ددغه نامه په اوریدو به تل د روسي سرتیرود سروینتان د دوی پرسرونه باندې اغزي اعزي کیدل...
په دغه سیمه کې چې دیوه تل ځپانده سیند پرشاوخو را چورلیدلي وه ، دوژنو او مقاومتونو شپې اوږدې شوې،ځکه چې دوی به په هرځای کې له شدید مقاومت سره مخا مخ کیدل،په یوه کلي دوی دري اوڅلوروځې له داسې مقاومت سره مخامخ کیدل چې ځانونه به ترې ورک وو، دری ورځې تیرې شوې چې اوس له دغه کلي پردوی باندې د ډزو بهیریوڅه آرام شوی و، له دری ورځنی مقاومته وروسته نادرجان اوکرچکوف په همدغه کلي سره مخامخ شول،دکلي ماشومان اومیرمني ټول دکلي منځ ته راوتلي وو،خو دکلي تلاشي لاهم په خپل شدت سره روانه وه ، روسانو اودنادرجان دوی سرتیرو دا یوه ښیګړه درلوده چې ماشومان او میرمنوبه د دوی د تلاشیواو برغلونو پرمهال ان په خپلو کلیو کې دآرامی احساس کاوه.نادرجان او کرچکوف اونور لوړ رتبه سیاسي او پوځي کسان اوس ټول د کلي په منځ کې ولاړوو،هریوبیاهم په خپل غم کې و،هلته مخامخ د کلا په منځ کې له نورو پریوه خوا څوماشومانو خپلو ټمبلونو ته زور ورکړی و،په ګډ خو خواږه آوازیی دغه سندره په خوند سره پورته کړې وه:

الله ګل دانه ، دانه ، دانه ، دانه
شوروی قار کده نمیره خانه
الله ګل دانه دانه...
مجاهد استی خلقی برادرجان ګپ مرا بشنو بشناس خدا جان
الله ګل دانه دانه
ملک ما را ګرفته به یک بهانه
شوروی قارکده نمیره خانه
الله ګل دانه دانه

ددغو ماشومانو دغې نرۍ خو ښایسته سندرې دټولو پاملرنه پرهغه خوا ور واړوله ، افغانان چې هلته وو،هغوی ټولو ددغې سندرې له اوریدو سره سم هم خندل اوهم ژړل ...دکرچکوف هم دغه حالت ته یوناڅاپي پام شو، زربي نادرجان ته مخ ور واړاوه او پوښتنه یې ترې وکړه:
ـ ولي،ولي څه خبره ده،څنګه خاندئ ،یعقوب ولي په ژړا دی ؟
دنادرجان دټولي سیاسي مرستیال چې ځان ساتی او ډارن غوندي و، نادرجان ته وویل:
-ګوره چې کټ مټ سندره ورته ونه ژباړې چې د بلا په خوله کې به مووركړي...
خو نادرجان بیا دده ددغه ډار پروا ونه کړه او د ماشومانو سندره یې ټوله کټ مټ روسانوته وژباړله...
که څه هم دیوشمیرنورو روسانوپه څیرو کې دقهرنښې را وپرکیدې، خو کرچکوف هم خپله خبره ونه شوای نیولای او دزړه له کومې یې وکړه ... نادرجان ته یې سترګه ګوډه کړه، او خپلو روسانو ته یې مخ ور واړاوه:
ـ عجب خلک دي او عجبه روحیه!
نورو روسانوهم د کرچکوف ددغې خبرې په وړاندې هیڅ هم ونه ویل ... د ماشومانو سندرې لاهم د لویې برجورې کلا په منځ کې خپل انګازه کول:
الله ګل دانه ، دانه ، دانه ، دانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوروی قار کده نمیره خانه
الله گل دانه دانه...
مجاهد استی خلقی برادرجان گپ مرا بشنو بشناس خدا جان
الله گل دانه دانه
ملک ما را گرفته به یک بهانه
شوروی قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه
پاتې لري

پاتې لري...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ